AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۱۲/۱۷

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دویم توک

### دوه شپېتمه برخه

## فراه

او

## د افغانستان سویلي برخې

## تصحیحات

## ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA

۱۹۷۳

**لودویک آدمک**

**خجو ده**: ۱۴ ــ ۳۰ ، ۱۲ ــ ۶۲: د هلمند د سیند پر ښی غاړې باندې له رودباره ۱۹ نیم مایله کښته او له چهاربرجکه ۱۵ مایله لیرې د ۵۰ کورونو یو کلی دی. دلته په ۱۸۸۴ز کال کې له سینده د پورې غاړه اوښتلو لپاره یو گودر وو؛ دا یو ډول مارپیچه گودر وو چې دوه کانالونه ئې درلودل او هر کانال تقریباً ۳ فیته ژور وو. دا باید په یاد ولرو چې دا کانالونه په عام ډول بدلیږي او کله ناکله د سیلاب له فصله وروسته بیخي ورک سي. (میتلند، پیکاک).

په ۱۹۰۳ز کال کې دلته ۲۸۰ تنه سنجراني بلوڅان اوسېدل چې ۱۷۰ سره کورني څاروي، ۲۰۰ پسونه او وزې او ۳۰ اوښان ئې درلودل. کرنیزه ځمکه ئې ۲۵ قلبې ده او له هرې قلبې څخه ئې ۱۸ خرواره حاصل ترلاسه کېږي. دا ځمکه په هغهٔ کانال خړوبېږي چې له دغهٔ کلي څخه ۸ مایله پورته له هلمنده جلا سوی دی. ددې کلي ملک فتح خان سنجراني دی. دغهٔ ځای ته نېږدې ۳ گودرونه ول. (ایس. ایم. ونلیس ۱۹۰۵)

**خاکــک**: ۵۰ ــ ۳۱، ۵۰ ــ ۶۲: د خاش ــ بکوا او فراه د سړک پر غاړې د دمې نیولو یوه‌مرحله ده. (ایس. ایم. تییت له بومي معلوماتو څخه.) همدا شان ددې سیمې په سویل لویدیځ لورې کې یوه تنگه غرنۍ دره ځغلېدلې او له تغې فرای سره یو ځای کېږي.

**خاکي**: ــ ۳۲، ـــ ۶۴: په زمینداور کې یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۳۳ کورونه په کې میشت دي (صاحبداد خان)

**خاک سفید**: وگورۍ: خوش هوا: ۴۰ ــ ۳۲، ۴ ـ ۶۲


افغان جرمن آنلاین په‌درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

* **خلاچ**: وګورئ: خلیچ: ۳۲ ــ ۳۱، ۴ ــ ۶۲

**خلیچ**: ۳۲ ــ ۳۱، ۱۵ ــ ۶۴: په ګرشک کې یو کلی دی او ویل سوي چې د بارکزیو ۲۰۰ کورنی په کې استوګني دي (صاحبداد خان) *دا کلی د مُعین کلا د شمال ختیځ په ۵ مایلی کې واقع دی.*

**خالوزي**: د دراني الکوزیو یوه عشیره ده. د پُشتِ روډ په هکله د صاحبداد خان راپور ښیي چې د خالوزیو ۴۵۰ کورنی د باغني په ولسوالی کې ژوند کوي.

**خاندک**: ــ ۳۲، ــ ۶۴: په زمینداور کې دوه کلي دي او په دواړو کې د علیزیو ۵۰ کورنۍ دېره دي (صاحبداد خان)

**د خان نشین غر**: ۲۷ ــ ۳۰ ، ۳۴ ــ ۶۳: لوړوالی ۴۴۷۰ فیټه. د خان نشین غر هماغسې چې بیلو تشریح کړی دی دا غر د تیزو لوخو غابنو لرونکو دنګو څوکو د پینځو مایلو په اوږدو د یوې لیرې پرتې کتلې پر سر د هلمند د سویل د بګت او دیشو تر منځ او د ګرمسیر د ګل آباد په سویل لویدیځ کې ولاړ دی. دا غر د کوهٔ لنډي (لنډي غر) په نامهٔ هم یادېږي. (بیلو، صاحبداد خان).

خان نشین په خپله د دریوو کلیو له ډلې څخه د لنډي په مقابل کې په هاغه بله غاړه کې جوړ دی او د میسري خیلو ۳۰۰ کورونه په کې استوګن دي. ددغودرې واړو کلیو د لویدیځ په وروستۍ انتها کې د خان نشین د کلا کنډوالي ولاړې دي. ددې کلي ملک محمود منیر خان دی. د کلا مقابل لوري کې یو ګودر دی. (ایس. ایم. بومي معلومات. ۱۹۰۳). *اوسنی نقشې یوازې یو کلی ښیي چې د قلعـهٔ نو د ختیځ په ۵ مایلی کې په ۳۳ ــ ۳۰ ، ۴۶ ــ ۶۳ کې واقع دی.*

**خار**: ۳۷ ــ ۳۱ ، ۲۰ ــ ۶۲: د خسپاس روډ یوه څانګه یا خوړ دی چې یوازې د سیل د اوبو بستر دی. په دې بستر کې له خسپاس روډ سره له یو ځای کیدلو څو مایله مخکې د اوبو یوه چینه ده چې د «چشمهٔ خار» په نامهٔ یادېږي. دلته د همدې خوړ پر غاړو د اوښانو څرځای سته. (ایس. ایم. تییت. بومي معلومات. ۱۹۰۴).

**خارک**: ۴۶ ــ ۳۲، ۴۵ ــ ۶۲: دا د غرونو یوه لړی ده چې د فراه روډ د شمال لویدیځ پوله په هغهٔ تکي کې جوړوي چې د دولت آباد له لارې د کندهار او هرات ترمنځ کارواني لاره لویدیځ لور ته تاوېږي. کانولي او تاد له چاه جهان څخه تر دولت آباده د یوهٔ تیټکي کوتل له لارې له دغهٔ ځایه تیر سوي او وایي چې د عرابه لرونکو انتقالاتي وسایلو لپاره سخته لاره ده. (آی. بي. سي.)

* **خارا کوه**: وګورئ: خار کوه: ۴ ــ ۳۱ ، ۷ ــ ۶۴

**خارکوه**: ۴ ــ ۳۱ ، ۷ ــ ۶۴: په ګرمسیل «ګرمسیر ــ ژ» کې یو ځای دی چې د نورزیو ۶۰ کورونه په کې استوګن دي. (صاحبداد خان). دا ځای د هزار جفت د سویل لویدیځ په ۴ مایلی کې دی. *د خار کوه په نامهٔ بل ځای د هزار جفت د شمال په ۱۶ مایلی کې په ۱۴ ــ ۳۱ ، ۱۲ ــ ۶۴ کې واقع دی.*

**خار روډ**: وګورئ: خار: ۳۷ ــ ۳۱ ، ۲۰ ــ ۶۲

**خاش**: (کاش): ۳۱ ــ ۳۱ ، ۴۸ ــ ۶۲: *دا هم د یوې علاقه داری، او هم د یوهٔ ښارګوټي او هم د خاش روډ په نامهٔ د یوهٔ سیند نوم دی چې ددې علاقه داری له منځه تیرېږي او د خاش ښارګوټي ته اوبـهٔ برابروي. دا علاقه داري ۱۱۰۰۰ تنه وګړي لري چې ټول ئـې په ۳۳ کلیو کې ژوند کوي. د افغان سرچینو له مخې دا علاقه داري ۱۶۶۱۱۰ جریبه ځمکه لري چې د کرنې لپاره ورڅخه کار اخیستل کـېږي او ۱۸۵۰۰ جریبه ځمکه د مالڅر لپاره لري. ددې علاقه داری تر ګرد چاپیر دښتې راتاو دي؛ په ژمي کې کوچیان خاشرود ته راځي او خپلې کـېږدی دروي او له همدې ځایه د اوښانو د نسل اخیستنې لپاره کار اخلي.* د خاش علاقه داري او کلی په ۱۹۱۲ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا یو کلی دی چي ترې دیوالونه راتاو دي دا کلی د چخانسور له شمال ختیځ څخه د ۵۳ مایلو په واټن، د خاشروډ پر غاړه یا ورته نـېـږدې واقع دی.

بیت وایي: " ویل سوي چي د خاش په کلي کي هیڅ شی نـهٔ سته، یوازې یوه استحکامي کلا یا حصار دی چي ۱۰۰ کورونه په کي استوګن دي، دا کوم ګارنیزیون نـهٔ دی چي سرتیري یا حتی خاصه داران په کي واوسي. ویل سوي چي د خاش د حاکم تر لاس لاندې یوازې ټول ټال ۶۰۰ کورونه دي چي ددې کورونو نیمایي ئـي نورزیان او نیمایي نور ئـي قرلباشان دي." د چخانسور – بُست کلا تر منځ سرک له دې کلي څخه تـېـرېږي او همدا شان د بکوا له لارې د هلمند پر غاړې ددیشو – فراه سرک هم له دې ځایه تـېـرېږي. (بیت. آی. بي. سي.)

په ۱۹۰۴ز کال کي سروې کوونکی ښاغلی تیت چي د مک موهن تر مشرۍ لاندې د سیستان له مأموریت سره ملګری وو د خاش د علاقه دارۍ په هکله د پام وړ معلومات چي عمدتاً له بومي سرچینو څخه دي په لاندې ډول راټول کړي دي:

د خاش کلی د «روډ» په کیڼي غاړې کي له روډ څخه په یوهٔ لنډ واټن کي واقع دی. ددې کلي په حصار کي یوه زړه ځاه ده چي که پاکه سي نو ښایي د اړتیا پر مهال د کارولو وړ وګرځي. دا حصار د ارباب آغا خان د استوګنې ځای دی، نوموړی د غلام حیدر خان لـځـي کشر ورور دی. ویل سوي چي د خاش په حصار کي یوه زړه ځاه ده چي که پاکه سي نو ښایي د اړتیا پر مهال د کارولو وړ وګرځي. په خاش کي ۲۴۰ کورنی دي چي تقریباً ټول ئـي فارسیوانان دي. ویل سوي چي دوی بې شمـېـره اوښان لري او په نیږدې شاوخواوو کي ئـي د اوښانو د پیولو لپاره پریمانه مالځر ځای لري. کرنیزه ځمکه ئـي ۵۰ پګو ده. د خاش علاقه داري د غلاتو د تولید علاقه داري ده او لاندیني معلومات ددوی هغه ابتدایي لاره چاره ښیي چي دا سیمه وربانديې خپلې مالي اړتیاوې سمبالوي. له دوی څخه دولت د غلاتو د حاصل یوه پر پینځمه اخلي. دا پینځمه برخه د «بټای» یا له درمند پاکولو وروسته په درمند ځای کي اخیستل کـېـږي چي اروزنه ئـي په پیسو باندې هم مبهمه ده. دوی د پګو تر څنګه هر یو ئـي ۵ منه حاصل میراَب ته، ترکاڼ او پښ یا آهنګر ته ورکوي. سلمان یا ډم ۳ منه اخلي. ملا هم خپله ونډه اخلي. دا ټول د لرغونو دودونو پر بنسټ سمبال سوي دي.

یوه پګو د شپږو تنو ډله ده چي د کرنیزو موخو لپاره سره سمبال سوي دي. یو ئـي قلبه کوي او پینځه تنه نور ئـي «تیشه» یا د یوم کار کوي. دوی یا خپل غوایان لري او یا یوه جوړه د بلوڅانو له رمو څخه په کرایه اخلي. غني پګو هغه ځمکي دي چي بیګار یا دولتي اجباري کار وربانديې کـېـږي حال دا چي تحویل پګو هغه ځمکه ده چي د سیمې د یوهٔ رسمي مشر مسؤولیت ګرځي او دې ورڅخه کټ مټ هماغه ونډه اخلي چي دولت ئــي د غني پګو د حاصل له ونډې څخه اخلي. تحویل پګوګاني له بیګار څخه معافي دي.

ددې علاقه دارۍ مالداران خپلې رمې د خاشروډ د دواړو غاړو په پووندو کي پیایي. ددوی ډلې او اړوند مشران ئـي په لاندې ډول شمـېـرل سوي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| میروکن | بهرامزی | ۴۰ | شاه داد | | ۲۶ |
| ایجاب | | ۲۵ | زمان | لیور زی | ۱۸ |
| دوست محمد | شاهاک زی[1] | ۳۷ | میرزا | | ۱۲ |
| عالم خان | کیری | ۴۸ | فقیر شاه | ساکزی \| اسحاقزی | ۱۵ |
| محمد | | ۵۲ | شیخ دورخ | | ۳۲ |
| علیم خان | | ۸۵ | سلطان مِـخ | بلوڅ | ۳۷ |
| زرین | بهرامزی | ۱۵ | | | |

دوی په دوبي کې د سیند د بستر تر غاړې په رسوبي خاورې کې استوګنه غوره کوي او اوبو ته نـېـږدې ځایونو کې خپلې رمې پیایي. ویل سوي چې شند ته نـېـږدې د تګریج علاقه داري دوی ته په پسرلي کې ددوی د خوښې وړ پوونده ځای دی. د خسپاس روږ ددې سیمې لویدیځه پوله ده چې ور هاخوا ئـې د بلوڅي کوچیانو څو ډلې موندل کـېـږي. (تییت، له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۴)

دلته موږ ته شک پیدا سوی چې د خاش د علاقه دارۍ اوسنی علاقه دار څوک دی. یو روایت وایي چې د لـځـي غلام حیدر خان دی او بل ئـې وایي چې احمد علي خان دی.

**خاش**: خاش روږ:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دوېم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

[1] - Shahakzai : ممکن دا د بلوڅانو کومه قومي څانګه وي او یا هم ښايي ساکزی یا سهاکزی وي، یا ضحاکزی - ژ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پاژوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ